محمد اياز نوری
۳۱/۱۰/۲۰۰۹

# یو وړاندیز دوو ملی شخصیتونو
# جناب للندری صاحب او معروفی صاحب ته

په تیره اونۍ کي د (افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان) په ملی پورتال کي لومړی افغان دروند شخصيت ليکوال او شاعر محترم عبداللطيف صديقی للندری صاحب او په تعقيب يي جناب انجنير خليل الله معروفی صاحب د خپلو تحصيلي خاطراتو په ارتباط خپل د سترګو ليد افغانانو ته تقديم کړل. دواړو جنابانو د خپل يو استاذ څخه چي مرحوم عبدالجبار خان (معلم تاريخ) نوميده، خپلي ژوندئ، يعنی د لومړي لاس خاطرې وليکلي. زه داسي ليکنو ته ځکه ډېر اهميت ورکوم، چي دا رنګ مسايل چون د يوه ليکوال د سترګو ليدلی بهير دئ، او په ضمن کي لوستونکی په هيڅ وجه د لوستلو څخه يي ستړيا نه احساس کوي، بلکي په مينه يي لولي او خپل معين عبرت او نتيجه ورڅخه اخلي. زه قاصر هم چي څه نا څه د قلم سره تماس لرم، له پخوا دغه موضوع زما په ذهن کي ګرځيده، چي خپل د تحصيلي دورې په باب، چي د ظاهر شاه د تولواکۍ نه پيل کيږي، يو څه وليکم.
دلته زما پيغام او يا هم وړانديز هغو درنو افغانانو ته، چي خپلي پخوانۍ خاطرې ليکي، دا دئ، چي د خپلي خاطرې او يا مضمون په پای کي په لنډ يا هم تفصيلي ډول خپله وروستۍ ارزونه يا نتيجه ګيرنې هم ورداخله کړي، او وي ليکي، چي هغه دم څوک په افغانستان سياسی واکمن يا په بل عبارت د پلازميني کابل د ارګ د مانۍ څخه يي په دي بد بخته ملت حکومت چلاوه...!
مثلا جناب للندری صاحب د خپل ښوونځي (د حبيبيي ليسي) په باب او د خپل ډير نادار او بيچاره ژوند په باب د نورو ورسره هم صنفانو او بالاخره د خپل يو محترم او ګران استاذ مرحوم جبار خان په اړه خورا په زړه پوري مسايل ليکلي دي، همدا راز محترم معروفی صاحب هم د للندري صاحب دا اقدام ستايلی، او له دې چي معروفی صاحب هم د حبيبيي ليسي يو زده کوونکئ تير شوئ دئ، د جناب استاذ جبار خان په باب يي نور څه هم ليکلي او د هغه خدای بخښلي ډېر فقير او غريب ژوند، ليکن لوی افغانی شهامت او لوړو انسانی اخلاقو څخه يادونه کړې ده.
ليکن دواړه درنو ليکوالانو د خپلي ليکني په باب، نتيجه ګيري ته نه دي تللي، او دا مهمه مسأله يي نه ده ذکر کړې، چي په هغه تور بخته دور کي (خاموشی قبل از طوفان) د غدار او قاتل نادرشاه يو بی کفايته او بي رحمه زوی د هيواد تول واک!! اعليحضرت ظاهر شاه په نوم يو کس په شاهي ارګ کي ، بي تفاوته پروت وه، او دا ملت نه په اکثريت کي، بلکي د تقريبا ۹۵ په سلو کي په نهايت لوږه، بی سوادی، جهالت او توهين او تحقير کي شپي او ورځي سبا کولي...!؟ آخر ولي؟؟، ولي دا ملت او دا مستعد او زحمتکش ولس تر دي حده فقير ژوند درلود؟ آيا زمونږ هيواد دا ښکلی افغانستان د داسي مناسب او عالي اقليم او د ډيرو زياتو طبيعی منابعو او کانونو په شتون کي، ولي په دري وخته عادي خوراک پسي سرګردان وه؟؟ دا المتوکل د تولو واک محمد ظاهر او د هغه خيانت کاره ترونه او نور د نادرې کور غړي !! آخر دا پوره نيمه پيړئ په څه مصروف او بوخت وه؟ البته بايد فکر مو وي، چي افغاني ملي خاينان او قاتلان لکه خلقيان او پرچميان او اسلامي دوکانداران هم نادری کور او له هغي جملي ظاهر شاه غندي، چي دا جانيان بيا دلته خپل شخصي او باندي اغراض لري، ليکن زه فقط د ولس له آدرس او د معلم صاحب جبار خان

مرحوم له موقف نه نادریان له ګریوانه رانیسم. د یوه دولتي زعیم دنده او مسؤولیت څه وي؟ فقط او یوازې د خپل تاج او تخت ساتل اوبس...!؟ هغه اصل چې پاچا ظاهر شاه ورته متوجه وه. البته باید ذکر کړم، چې للندري صاحب او معروفي صاحب حق لري، د نادرى واكدارانو په باب خپله مثبته دفاعیه هم ولیکي، دا هم د هغوی حق دئ، اما که هغه دوره نه تاییدوي، بهتره ده، خپله لازمه سیاسي تبصره هم پرې وکړي.
په هر حال، زما نظر او تحلیل دا دئ، چې هغه درانه افغانان چې په هره دوره کې یوه خاطره هیواد والو ته لیکي، بهتره ده، د لیکنې په پای کې یوه وروستۍ نتیجه او عبرتناکه ارزوونه هم لوستونکي ته پیشکش کړي.